EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

# په استقبال کې ستاسو حقونه او مکلفیتونه



دا معلومات ستاسو لپاره دي که:

- تاسو د 18 کلونو څخه کم عمر لرئ
- ته د خپل والدینو څخه پرته رارسېدلی یې، یا یوازې یا د نورو کورنیو غړو سره
- ته په لاتویا کې د پناه ځای لپاره (چې د نړیوال خوندیتوب په نوم هم یادیږي) غوښتنه کړې ده.

PASHTO

# منځپانګې


| | |
|---|---|
| ته په دې هېواد کې خوندي يې | 3 |
| څوک به ستا سره مرسته وکړي؟ | 3 |
| استازي رول څه دی؟ | 3 |
| بل څوک ستا سره مرسته کولی شي؟ | 4 |
| ته به څه ترلاسه کړې؟ | 6 |
| د روغتيا پاملرنې حق | 8 |
| کارکوونکو او استازي ته خبر ورکړه | 9 |
| د غوره لېوالتياو ارزونه څه شی دی؟ | 10 |
| د زده کړې حق | 10 |
| د کار کولو حق | 11 |
| ستا د پناه غوښتنې سند | 11 |
| تاسو به چېرته پاتې کيږئ؟ | 12 |
| ته څه کولی شې که چېرې يو څوک درسره بد چلند وکړي؟ | 13 |
| ستا د استقبال مکلفيتونه څه دي؟ | 14 |
| که چېرې ته د خپل مکلفيتونه ادا ونکړې نو څه به کيږي؟ | 15 |
| د پناه ځای لپاره غوښتنه کولو او نورو هېوادونو ته د سفر کولو قواعد | 16 |
| که ته د +EU هېوادونو څخه يو ته وتښتې نو څه به کيږي؟ | 17 |
| څوک ستا سره مرسته کولی شي که چېرې ته د چارواکو لخوا پرېکړې سره موافق نه يې؟ | 18 |
| څه به کيږي که چېرې يوڅه ملاتړ بدلون ومومي؟ | 19 |
| د اړيکو جزئيات | 20 |

## ته په دې هېواد کې خوندي يې

ته چارواکو ته ووېل چې ته بېرته خپل هېواد ته نشې تلای ځکه چې ته په خطر کې يې او ته د پناه غوښتنه کړې ده. ته په لاتویا کې پناه غوښتونکی يې.

دا عادي یا نورمال خبره ده که هرڅه نوي احساس شي. ته په دې هېواد کې خوندي يې او يوازې به نه يې.

## څوک به ستا سره مرسته وکړي؟

په اروپا کې، هر څوک چې له 18 کلونو څخه کم عمرى لري يو ماشوم ګڼل کيږي او د **ځانګړي ملاتړ** ترلاسه کولو حق لري.



ځکه چې ته دلته بې له والدينو يې، يو بل بالغ کس چې **استازی** ورته ويل کيږي، به تا سره مرسته وکړي.

که چېرې ته تر اوسه له خپل استازي سره ملاقات نه وی کړی، نو ژر تر ژره به ورسره ووينې.

## د استازي رول څه دی؟

ستا استازی تا ته د خپل پاتې کېدو په اړه هر هغه څه تشريح کوي چې ته ورته پوهېدو ته اړتيا لرې او ستا سره مرسته کوي ترڅو خپلو پوښتنو ته ځوابونه ومومې. د بيلګې په توګه، د دې په اړه چې ته څنګه ښوونځي ته تللی شې، څنګه ډاکټر (ډاکټرې) ته مراجعه کولی شې، چېرته به ته ژوند کوې، څنګه خپله کورنۍ موندلی شې یا ورسره اړیکه نيولی شې. نور کارکوونکي به هم تا سره په دې پوښتنو کې مرسته وکړي.

ستا استازی چارواکو ته هغه څه وایي چې ته ورته اړتیا لرې، تا ته مشوره چمتو کوي او تا سره د مهمو پریکړو په ترسره کولو کې مرسته کوي.

ته تل خپلې اړتیاوې او احساسات څرګندولی شې او خپل استازي ته خپله رایه وواېې.

که چېرې ته د خپل استازي سره ستونزه لرې، نو کارکوونکو ته وواېه.

## بل څوک ستا سره مرسته کولی شي؟



- یو **ټولنیز کارکوونکی یا مشاور** به تا سره ستا ورځني اړتیاوو کې مرسته وکړي یا به د نورو مسلکیانو سره اړیکه ونیسي څوک چې د یوې ځانګړې ستونزې کې مرسته کولی شي.
- یو **ډاکټر (ډاکټره)** یا **نرس (نرسه)** به ستاسو سره مرسته وکړي که چېرې تاسو ځان ناروغه احساس کوئ، تاسو ټپي یاست یا تاسو کوم ډول طبي په حل کې مرستې ته اړتیا لرئ.
- یو **ارواپوه/سایکالوجست** به ستا سره مرسته وکړي که چېرې ته د خفګان، غوسې، ویرې، اندېښنې احساس کوې یا ویده کېدل سخت مومې.
- یو **قانوني سلاګر (سلاګره)** به تا سره په دې پوهېدلو کې مرسته وکړي چې د پناه غوښتنې کړنلارې په جریان کې به څه پېښیږي او په هغه صورت کې چې ته باور لرې چې ستا حقونو ته درناوی نه کیږي.
- یو **ژباړونکی** سو سره په هغه ژبه باندې خبرو اترو کې مرسته کولی شي چې تاسو پرې پوهېږئ. د دوی رول کټ مټ هغه څه ژباړل دي چې تاسو او نور یې وایئ.

## د عمر ارزونه څه شی دی؟




که چېرې ته اروپا ته د داسې هېڅ سند پرته راورسېدلې چې ستا عمر ثابتوي، او چارواکي ستا د عمر په اړه شک لري، نو دوی به له تا څخه وغواړي چې په یوه کړنلاره کې برخه واخلې چې **د عمر ارزونې** په نوم یادیږي. په دې توګه، دوی پرېکړه کولی شي چې ایا دوی ته ماشوم ګڼې یا نه.
که چېرې له تا څخه وغوښتل شي چې د عمر په ارزونه کې برخه واخلې، ستا استازی به تا ته کړنلار تشریح کړي.

## ته څه کولی شې که ته له خپلې کورنۍ سره اړیکه نیول وغواړې؟



- که تا ته پته نه وي چې ستا کورنۍ چېرته ده، یا ته له دوی سره اړیکه پرې کړې ده، ته د خپل استازي یا کارکوونکو څخه د مرستې غوښتنه کولی شې. دوی به ستا د کورنۍ په لټون کې ستا سره مرسته وکړي.
- که چېرې تا ته پته وي چې ستا کورنۍ چېرته ده او ته د دوی د اړیکو جزئیات لرې، که ته وغواړې نو کارکوونکي تا سره مرسته کولی شي چې دوی ته زنګ ووهې.
- که ته په اروپا کې کورنۍ لرې نو کارکوونکو ته هر هغه څه ووایې چې تا ته د خپلې کورنۍ په اړه معلومه وي.

## پام کوه، ځینې خلک کېدای شي تا په خطر کې واچوي



ته ممکن د دې هېواد څخه د تېښتې په اړه فکر وکړې یا ځینې خلک به هڅه وکړي چې تا قانع کړي چې وتېښتې. دا ستا لپاره خطرناک کېدی شي او ستا د پناه ځای غوښتنلیک لپاره کېدی شي منفي پایلې ولري.
له خپل استازي او کارکوونکو سره خبرې وکړه، ته دوی ته حالت تشریح کولی شې او دوی تا ته مشوره درکولی شي.

## تە بە څە ترلاسە کړې؟

تە بە بېلابېل ډولە ملاتړ او خدمتونە ترلاسە کړې پداسې حال کې چې تە د چارواکو لخوا د خپل پناه ځای غوښتنلیک د څېړلو پە انتظار کې یاست. دې تە **استقبال** ویل کیږي.


د یو ماشوم پە توګه او د یو پناه لټوونکي پە توګه تە حقونە لرې، مګر مکلفیتونە هم لرې چې تە یې درناوی کولو تە اړتیا لرې. دا پە دې بروشر/رسالە کې بیان شوي دي.

کارکوونکي بە لە تا څخە د دې تایید وغواړي چې تا پە دې بروشر/رسالە کې معلومات ترلاسە کړي. کە چېرې تە د دې بروشر پە برخو باندې نە پوهېږې یا کە تە څە پوښتنې لرې، لە خپل استازي او کارکوونکو څخە پوښتنە وکړه.

پە دې هېواد کې ستا د پاتې کېدنې پە جریان کې، ستا استازی او کارکوونکي بە ستا د ځانګړې وضعیت پورې اړوند اضافي معلومات چمتو کړي. تە هر وخت پوښتنې کولی شې.



**ته به لاندې توکي ترلاسه کړې:**



• د خوب کولو ځای



• خواړه



• د شخصي حفظ الصحې توکي



• جامې



• د ورځنې لګښتونو لپاره پیسې

که تاسو د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر د پناه غوښتونکو په استوګنځي کې ژوند کوئ، نو تاسو به د خوب ځای، خواړه، او شخصي حفظ الصحې توکي درکړل شي.

ستاسو ورځنۍ تخصیص به ستاسو استازي ته ورکړل شي. که اړتیا وي، تاسو به د موسم سره سم مناسب جامې درکړل شي.

## د روغتيا پاملرنې حق

**چارواکي به دا خبره ډاډمنه کړي چې تاسو هغه روغتيايي پاملرنه ترلاسه کوئ چې تاسو ورته اړتيا لرئ.**

**ته کارکوونکو او خپل استازي ته د هرې يوې طبي ستونزې په اړه خبر ورکولی شې چې ته يې لرې.**
دوی به تا سره د نرس (نرسې) يا ډاکټر (ډاکټرې) ليدلو کې مرسته وکړي که ته اړتيا لرې.




که چېرې ډاکټر (ډاکټره) دا ضروري/اړين وګڼي، نو دوی به درمل درته وليکي او همدارنګه د متخصصينو سره ليدنې به ترتيب کړي.

کارکوونکي او استازی به تا ته ووايي چې که چېرې د روغتيا معاينې لپاره نرس (نرسې) يا ډاکټر (ډاکټرې) ته د ليدلو اړتيا لرې. دوی به ستا روغتيا وګوري او تا ته اړينې مرستې وړاندې کړي.

که چېرې ته طبي بيړني حالت يا کوم ټپ/زخم لرې چې بيړنۍ درملنې ته اړتيا لري، نو کارکوونکو ته ووايې. که چېرې ته د هغه ځای څخه بهر يې چې ته پکې پاتې کېږې، نو ته په وړيا توګه د بيړني شمېرې 112 ته زنګ وهلی شې.

## کارکوونکو او استازي ته خبر ورکړي که چېرې:



- ته نا جوړه يې، ټپي/زخمي يې يا عاجل طبي مرستې يا درملو ته اړتيا لرې
- ته نشه يي توکي کاروې يا الکول څښې
- ته په تيرو وختونو کې د تاوتريخوالی يا ناوړه ګټه اخيستنې سره مخ شوی يې يا ته ورسره اوس مخ يې
- تاسو اميندواره ياست يا تاسو کېدی شي اميندواره ياست
- ته په خپله نشې ګرځېدلی، يا ته په اوريدلو يا کتلو کې ستونزې لرې
- ته ډېر اندېښمن، خفه يې، خوب نشې کولی يا منفي فکرونه لرې
- ته د يو چا څخه ناامنه احساس کوې يا ويره لرې، يو نا اشنا کس يا يو څوک چې ته يې پېژنې
- ته د هغه کارونو کولو ته مجبور شوې يې يا مجبور کيږې چې ته يې نه غواړې
- ته د خپلې عقيدې، له چا سره د مينه، د څنګه جامې اغوستلو يا چلند له امله ناامنه احساس کوې.

په ياد ولرې، کارکوونکې او ستا استازی دلته د مرستې لپاره دي.



## د غوره لېوالتیاو ارزونه څه شی دی؟



دا یو فعالیت دی چېرې چې به ته نور کارکوونکي وګورې څوک چې به له تا څخه پوښتنې وکړي چې:

- ستا په **اړتیاو** پوهه شي
- پرېکړه وکړي چې ته کوم **ملاتړ** ته اړتیا لرې.

دا به د چارواکو سره په مهمو پرېکړو ترسره کولو کې مرسته وکړي، د مثال په توګه ته به چېرته پاتې شې.

ته په نرس، ډاکټر، کارکوونکو او خپل استازي باور کولی شې.

هېڅ هغه څه چې ته یې وایې، ستا له موافقې پرته به ستا له استازي پرته له بل هیچا سره شریک نشي.

که چېرې ته نه غواړې چې ستا سرپرست/استازی خبر شي یا پکې ښکیل شي، نو کارکوونکو ته ووایه.

## د زده کړې حق



د یو ماشوم په توګه ته د زده کړې او د زده کولو حق لرې. که چېرې ته ښوونځي ته ځې او دې وخت پرمهال ته 18 کلن شې، نو ته خپل حاضری ته د ښوونځي تر ختمیدو پورې دوام ورکولی شې.

ستا استازی او کارکوونکي به تا سره په ښوونځي کې د نوم لیکنې په برخه کې مرسته وکړي. دوی به تا ته د ژبې د چمتووالي ټولګیو او نورو کورسونو په اړه خبر درکړي. ته کېدای شي د دې کورسونو څخه په ځینې کې ګډون ته اړتیا ولرې.

کارکوونکي به تا ته د زده کړې او تفریحي فعالیتونو په اړه ووایي ترڅو تا سره د زده کولو، پرمختګ او نوي ملګري په جوړولو کې مرسته وکړي.

## د کار کولو حق





ستا د عمر او حالت پورې اړه لري، تا ته کېدی شي په لاتویا کې د کار کولو اجازه درکړل شي، که ته داسې کول وغواړې. ستا استازی او د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر چارواکي به تا ته نور معلومات درکړي.

ستاسو د وضعیت پورې اړه لري، تاسو ممکن د نړیوال ساتنې غوښتنلیک په لاتویا کې له ثبتېدو درې میاشتې وروسته د کار کولو وړتیا ولرئ، په دې شرط چې تاسو لا تر اوسه د پناه غوښتنې یا بدیل حالت په ورکولو یا ردولو باندې کومه پرېکړه نه وي ترلاسه کړې او تاسو د پناه غوښتونکي هویت سند ترلاسه کړی وي.



ټول هلکان او نجونې چې د 15 کلونو څخه کم عمر لري د کار کولو اجازه نلري. (په استثنايي حالتونو کې، دوی ممکن د 13 کلونو څخه د کار کولو اجازه ورکړل شي).

## ستا د پناه لټونکي سند

ته به د خپل نوم او عکس سره یو شخصي سند ترلاسه کړې. دا ښيي چې ته په لاتویا کې یو پناه غوښتونکی یې. ته دا باید تل له ځانه سره ولرې

**دا سند مهم دی. پام وکړه چې ورک یې نکړې او بل چاته یې مه ورکوه.**

دی سند ته د پناه غوښتونکي د هویت سند ویل کیږي.



## تاسو به چېرته پاتې کيږئ؟

هغه ځای چېرته به چې ته پاتې کيږې پداسې حال کې چې چارواکي ستا د پناه ځای غوښتنليک څېړي ستا عمر او اړتياو پورې اړه لري.







ستا استازی او کارکوونکي به تا ته خبر درکړي چې **ته بايد چېرته پاتې شې،** د مثال په توګه په يو ځانګړي استوګنځای يا ښار کې.

**ته به يوازې په هغه ځای کې ملاتړ او خدمتونه ترلاسه کړې چې د چارواکو لخوا ټاکل شوې وي.**

ډېر په ندرت سره، ماشومان ممکن په داسې مرکز کې واچول شي چېرې چې دوی په خپله خوښه نشي تللی او راتللی. که چېرې ته په دې حالت کې يې، ستا استازی، قانوني سلاکار او کارکوونکي به تا سره مرسته وکړي.

**مهمه نه ده چې ته چېرته پاتې کیږې، ته د خوندي اوسیدو حق لرې.**
**هېڅوک اجازه نلري چې:**




مهمه نه ده چې دوی څوک دي، یو نا اشنا کس یا یو څوک چې تاسو يې پېژنئ.
که ته د کارکوونکو یا د خپل استازي سره څه ستونزې لرې، ته د دوی په اړه خبرې کولای شې.

## ته څه کولی شې که چېرې یو څوک درسره بد چلند وکړي؟



ته د هغه کس سره خبرې کولی شې چې ته پرې باور لرې، بل کارکوونکی، ستا استازی، یا کارکوونکی.



که چېرې څوک تا سره بد چلند کوي، ته دا چارواکو ته راپور کولی شې ترڅو د بیا پېښېدو څخه ډډه وشي.

دې ته 'شکایت کول' ویل کیږي.

**توجه!**

که چېرې ته د هغه ځای څخه بهر يې چېرته چې ته پاتې کیږې او په خطر کې يې، ته د هر تلیفون څخه د ملي بیړني شمېرې 112 ته وړیا زنګ وهلی شې.

## ستا د استقبال مکلفیتونه څه دي؟



دا مهمه ده چې ته ربښتيا ووايې او دا چې له چارواکو سره همکاري وکړې، حتی که چېرې ځینې وختونه ستا د کیسې ویل ډارونکی او ستونزمن احساس کویږي. ته یوازې نه یې. ستا استازی او کارکوونکي دلته دي ترڅو ستا خبرې واوري او ستا د ورځني اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړي.

کارکوونکي ستا سره مرسته کولی شي، که چېرې دوی ته ستا د حالت په اړه معلومه وي.

هر چېرې چې ته به پاتې کیږې، هلته به قوانین شتون ولري چې تعقیب شي. د مثال په توګه، ته باید د نورو اوسیدونکو او کارکوونکو درناوی وکړې، او ته باید د ارامو یا چپتیا ساعتونو په جریان کې شور ونه کړې.
کله چې قواعد تعقیب نشي کارکوونکي به قواعد او پایلې بیان کړي.

دا ډېره مهمه ده چې ته:

- چېرته چې ته پاتې کیږې د هغه ځای قواعد تعقیب کړې
- د چارواکو له کارکوونکو سره همکاري وکړه او د دوی لارښوونې تعقیب کړه؛
- د نورو اوسیدونکو، کارکوونکو او نورو کسانو درناوی وکړئ؛
- د خپل اوسني آدرس او اړیکي معلوماتو (د تلیفون شمېره، برېښنالیک آدرس) په اړه د چارواکو کارکوونکو ته خبر ورکړه، ترڅو هر وخت له تا سره اړیکه ونیول شي؛
- له هغه ځای څخه ونه تېښتې چېرته چې چارواکو تا ته د پاتې کېدو لپاره ویلي دي
- د دې هېواد قوانین تعقیب کړې، کوم چې کارکوونکي او ستا استازی به تا ته تشریح کړي.

## که چېرې ته د خپل مکلفیتونه ادا ونکړې نو څه به کیږي؟



که چېرې داسې وشي، ته له خپل استازي یا کارکوونکو سره په ښکاره ډول خبرې کولی شې او خپل وضعیت او هغه وجې بیانولی شې.

چارواکي به ستا حالت وارزوي او ته او ستا استازي ته به خبر درکړي که چېرې دوی د ځینې اقداماتو کولو پرېکړه وکړي.

چارواکي کېدی شي پرېکړه وکړي چې:

- **ته کېدای شي لږ ملاتړ ترلاسه کړې،** د مثال په توګه، که چېرې ته له هغه ځای څخه وتښتې چېرې چې چارواکو تا ته د پاتې کېدو ویلي وي یا که ته له چارواکو سره همکاري نه کوې.



- **ته کېدای شي د هغه ملاتړ یو څه برخه له لاسه ورکړې چې ته یې ترلاسه کوې،** که چېرې ته له تاوتریخوالي سره چلند وکړې یا د هغه ځای قوانین په مکرر یا جدي ډول مات کړې چې ته پکې پاتې کیږې. پولیس هم کېدی شي راوغوښتل شي.

**ته اوس په لاتویا کې یې، کوم چې د +EU هېواد دی.**

د اروپايي اتحادیې 27 (European Union, EU) غړي هېوادونه عبارت دي له: اتریش، بلجیم، بلغاریه، کروئشیا، قبرس، چک جمهوریت، ډنمارک، استونیا، فنلینډ، فرانسه، جرمني، یونان، هنګري، ایټالیه، لاتویا، لیتوانیا، لوکزمبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پورتګال، د ایرلینډ جمهوریت، رومانیه، سلواکیا، سلونیا، اسپانیه، سویډن او

4 نور هېوادونه: آیسلینډ، لیچتنستین، ناروې او سویټزرلنډ.

## د پناه ځای لپاره غوښتنه کولو او +EU هېوادونو ته د سفر کولو قواعد




ستا استازی **او کارکوونکي به تا ته دا مهم قواعد بیان یا تشریح کړي.**

- ته باید په لاتویا کې پاتې شې او د +EU نورو هېوادونو څخه یو ته ونه تښتې.
- که چېرې ته د دې هېوادونو څخه په یو کې د کورنۍ غړي لرې، چارواکي به تا ته د کورنۍ په بیا یوځای کېدو باندې ستا د حقونو په اړه خبر درکړي. بس مه تښتته.
- که ته وتښتې، نو منفي پایلې به شتون ولري، چې په بروشر کې تشریح شوې. د مثال په توګه، ته به په بل هېواد کې د استقبال لړ ملاتړ ترلاسه کړې.
- په یاد ولره، ته باید خپل د پناه غوښتنې غوښتنلیک په هغه +EU هېواد کې راجستر کړې چېرته چې ته لومړی راغلی وې، ترهغه چې چارواکو تا ته بل ډول خبر درکړې وي.
- یوازې یو له دې هېوادونو څخه ستا د پناه غوښتنې غوښتنلیک د څېړلو ذمه وار دی. په لاتویا کې چارواکي به تا ته ووايي چې کوم هېواد د دې ذمه وار دی.

تاسو به د دې کړنلارو په اړه په جلا بروشرونو/رسالو کې زده کړئ.

## که ته د +EU هېوادونو څخه یو ته وتښتې نو څه به کیږي؟




**په لاتویا کې:**

- ستا د پناه غوښتنې کړنلاره کېدی شي ودرول شي.

**په بل +EU هېواد کې:**

- چارواکي کېدی شي پرېکړه وکړي چې ته بېرته هغه +EU هېواد ته ولېږي چې ته ترې وتلې وې.

له هغه شیبې چې چارواکي تا ته ستا د بېرته لېږلو پرېکړې په اړه خبر درکړي، ته به ځینې حقونو ته لاسرسی ونلرې، د مثال په توګه:

- ته به د ملاتړ ځینې ډولونه ترلاسه نه کړې او
- ته به د کار کولو اجازه ونلرې.

## ځوک ستا سره مرسته کولی شي که چېرې ته د چارواکو لخوا پرېکړې سره موافق نه يې؟

ته له خپل استازي سره خبرې کولی شې او هره پوښتنه کولی شې.



د خپل استازي سره یوځای ته د قانوني سلاګر (سلاګرې) څخه د مرستې غوښتنه کولی شې.

قانوني سلاګر (سلاګره) یو کس دی ځوک چې په دې هېواد کې په قوانینو باندې پوهېږي او ستا حالت مطالعه کولی شي او ستا سره مرسته کولی شي.

کارکوونکي به تا ته د هغو غیر دولتي سازمانونو په اړه هم خبر درکړي ځوک چې کېدی شي تا ته معلومات او مرسته هم وړاندې کړي.




ته هر وخت د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري ( United Nations Refugee Agency, UNHCR) سره اړیکه نیولی شې. UNHCR د هغو خلکو ساتنه کوي ځوک چې د خپل هېواد پرېښودو ته مجبور شوي وو.

## څه به کیږي که چېرې یوځه ملاتړ بدلون وموموي؟

که چېرې چارواکي پرېکړه وکړي چې د ځینې ډولونو ملاتړ محدود کړي یا لغوه کړي د یو حالت یا وضعیت له امله لکه څنګه چې په پاڼه 15 کې تشریح شوی، ته به بیا هم وکولی شې چې:



- ښوونځي ته لاړ شې



- یو ډاکټر (ډاکټرې) یا نرس (نرسې) سره ووینې او طبي مرسته ترلاسه کړې



- د خپل شخصي حالت او اړتیاو پر بنسټ مرسته ترلاسه کړې، په دې معنی چې د چارواکو لخوا ټاکل شوي ځای کې د خوب کولو ځای او یو څه ملاتړ ترلاسه کړې.

کله چې چارواکي پرېکړه وکړي چې ستا لپاره چمتو شوی د استقبال ملاتړ لغوه کړي ځکه چې ته د EU+ بل هېواد ته تښتېدلې یې او تللی یاست، نو د هغه ملاتړ ډول چې ته به یې بیا هم ترلاسه کوې ستا په شخصي حالت یا وضعیت او اړتیاو پورې اړه لري. ته به بیا هم وکولی شې چې ښوونځي ته لاړ شې.

## د اړیکو جزئیات

که ته څه پوښتنې لرې یا خپل د پاتې کېدو پرمهال ملاتړ ته اړتیا لرې، ته د کارکوونکو سره خبرې کولی شې چې په لاندې کې کار کوي:

| د داخلي مرکزونه | |
| --- | --- |
| | د دولت د سرحدي ساتنې ګارد<br>آدرس: Rūdolfa iela 5, Riga<br>تلیفون: 67913300 371+<br>بریښنالیک: pasts@rs.gov.lv<br>/https://www.rs.gov.lv<br><br>د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر<br>آدرس: Čiekurkalna 1. līnija 1, k-3, Riga<br>تلیفون: 67209400 371+<br>بریښنالیک: pasts@pmlp.gov.lv<br>https://www.pmlp.gov.lv/ |

ته له دې سازمانونو سره د لاندې اړوند پوښتنو لپاره هم اړیکه نیولی شئ:

## طبي ملاتړ



**د ملي روغتیا خدمت**

آدرس: Cēsu iela 31 k-3, entrance 6, Riga

تلیفون: +371 80001234

بریښنالیک: nvd@vmnvd.gov.lv

https://www.vmnvd.gov.lv

## رواني ټولنیز ملاتړ



**د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د مرستې کرښه 116111**

ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته رواني مرسته او د بحران په حالتونو کې ملاتړ وړاندې کوي.

## د ماشوم ساتنه



**د ماشومانو د ساتنې مرکز**

آدرس: Ventspils iela 53, Riga

تلیفون: +371 67359128

بریښنالیک: pasts@bac.gov.lv

https://www.bac.gov.lv

**د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د مرستې کرښه 116111**

ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته رواني مرسته او د بحران په حالتونو کې ملاتړ وړاندې کوي.

## په خطر کې د ماشومانو لپاره د مرستې لیکه



که ته له پامه غورځېدلي یا په خطر کې احساس کوې، ته په وړیا توګه 112 شمېرې ته زنګ وهلی شې.

که چېرې ستا ورور، خور یا ملګری ورک شوی وي نو ته هاټ لاین 116 000 شمېرې - Missing Children Europe (په اروپا کې ورک شوي ماشومان) ته زنګ وهلی شې

## قانوني مشوره، مرسته او استازیتوب



محکمې اداره
آدرس: Antonijas iela 6, Riga
تلیفون: +371 67063800
برېښنالیک: pasts@ta.gov.lv
https://www.ta.gov.lv/

## د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره (United Nations Refugee Agency, UNHCR)
د پناه لټوونکو او کډوالو د ګټو او حقونو ساتنه کوي




د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنري UNHCR
آدرس: Antonijas iela 9, Riga
تلیفون: +46 10 101 28 00
برېښنالیک: swest@unhcr.org
https://www.unhcr.org/

| | |
|---|---|
| **د ټولنې د یوځای کېدنې بنسټ یو ځای پلورنځی** | د یو ځای پلورنځي د پیرودونکو خدمت مرکزونه آدرسونه:<br>آدرس: Raiņa bulvāris 15, Riga، تلیفون: +371 26959706<br>آدرس: Rožu iela 6, Liepāja، تلیفون: +371 22811020<br>آدرس: Ģimnāzijas iela 11, Daugavpils، تلیفون: +371 29557630<br>https://livelatvia.lv/ |
| **د لاتویا د بشري حقونو مرکز** | آدرس: Alberta iela 13, Riga<br>تلیفون: +371 67039290<br>برېښنالیک: office@humanrights.org.lv<br>https://cilvektiesibas.org.lv/ |

که ته طبي بیړني حالت لرې او ته په خطر کې وې، نو د کارکوونکو سره اړیکه ونیسې. دوی به ستا سره مرسته وکړي.

که چېرې ته د هغه ځای څخه بهر یې چېرته چې ته پاتې کېږې او ته څه حادثه لرې یا ته په خطر کې یې، ته دې بیړني شمېرې ته ته وړیا زنګ وهلی شې:

**بیړني طبي خدمتونه او پولیس: 112**

که ته تلیفون نلرې، ته له بل چا څخه غوښتنه کولی شې چې ستا لپاره بیړنی شمېرې ته زنګ ووهي.

دا بروشر یوازې د معلوماتو موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپایي ټولنې د پناه غوښتنې اداري (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشر بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هېوادونو لپاره د EUAA لخوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هېوادونو یا کوم بل مسؤل درېیم اړخ لخوا په دې بروشر کې د شامل شوي معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باورۍ توب لپاره هېڅ ذمه واري یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب، هېڅ شخص په دې بروشر کې د موندل شوي معلوماتو کارولو ذمه واري نه لري.

European Union Agency for Asylum, 2025 ©